ابوجہل کی موت (پشتو)

# دابُوجَهل مرګ




شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَهلِسُنّت، بانیِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب یا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندې دُعا اولولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو یاد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَکَ وَانْشُرْ عَلَیْنَا رَحْمَتَکَ یَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه علم او د حکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بیروت)

طلب غم مدینہ بقیع ومغفرت

(اول او آخر کښې یو یو ځل دُرود شریف اولولئ)


د رسالې نوم: د اَبُوجَهل مرګ
اول ځل: صفر المظفر ١٤٣٧ھ، نومبر 2015ء
تعداد: 3000

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچۍ.



مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته


### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که دَ کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي یا پانړې کمې وي یا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلې وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د ابُو جَهل مرګ

دا رِساله ”ابُو جَہل کی مَوت“ شيخ طريقت آميرِ آهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُـهُمُ الۡعَالِيَه په اردو ژبه کښ ليکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښ د وَس مناسب ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښ څه غلطي يا کمې، زياتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښ عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د ابُو جَهل مرګ[1]

شيطان که هرڅومره ناراستی درولي خو دا بيان مکمل اولولئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ تاسو به په خپل زړه کښې مَدَني انقلاب جوړيدل محسوس کړئ.

## دَ درودشريف ليکونکي بخښنه اوشوه

**حضرت** سَيِّدُنا سُفيان بن عُيَينَه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: زما يو اسلامي ورور وو د هغه د مرګ نه پس ما هغه په خوب کښې اوليدو، تپوس مي تري اوکړو: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني الله تعالٰی ستاسره څه مُعامَله اوفرمائيله؟ جواب ئي راکړو: **الله** تعالٰی زه اوبخښلم. ماتري تپوس اوکړو: د څه عمل په وجه؟ اوئي وئيل: ما به حديث ليکلو چه کله به هم د شاهِ خيرُالانام عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ذِکرِخير راتلو نو ما به د ثواب په نِيَّت "صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم" ليکلو دَ دې عمل په برکت سره زما بخښنه اوشوه. (اَلْقَولُ البَدِيع ص463)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] دا بيان اميرِ اهلسنت د تبليغ قرآن وسنت عالمګير غير سياسی تحريک دعوت اسلامی د دري ورځويه اجتماع (5،6،7) رَجَبُ المُرَجَّب سن 1420 هجری د اتواريه ورځ مدينةُ الاولياء ملتان) کښې فرمائيلي وو.دَ ضروری ترميم سره ليکلي شوې حاضرِ خدمت دې. مجلس مکتبة المَدينه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

## د درود په ځائې ؑ ليکل حرام دي

**خوږو خوږو اسلامی وروڼو!** سُبحٰنَ الله! د درود شريف د ليکلو هم څه ښکلې برکتونه دي دَ دې حکايت نه دا هم معلومه شوه چه کله هم درود شريف لولَئ يا ليکئ نو د ''ثواب نِيَّت'' کول ضروری دي او دا خو په هر عمل کښ لازم دي، که چرې په ښه عمل کښ ښه نِيَّت نه وی نو ثواب به نه کيږی. ځکه د هر هر عمل نه مخکښ د ښه ښه نِيَّتونو کولو عادت جوړول پکار دي. د درود شريف د ليکلو مُتَعَلِّق ځيني مَدَنی ګلونه قبول کړئ: کله چه هم نامِ اقدس ليکئ نو په ژبه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وائې هم، اَو ليکئ ئې هم، او مکمل صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ليکئ، دَ دې په ځائې دَ دې مُخَفَّف (short form) صلعم يا ؐ ليکل ناجائز او سخت حرام دي. (ماخوذازبهارشريعت ج1ص534)

هم دغه رنګ د جَلَّ جَلَالُہٗ په ځائې ج يا دَ عَلَيْهِ السَّلَام په ځائې ؑ د رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ځائې ؓ او د رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په ځائې ؒ مه ليکئ.

## دوه واړه مجاهدين

حضرت عبدُالرَّحمٰن بِن عَوف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د غزوهٔ بدر په ورځ چه کله زه د مجاهدينو په صف کښ ولاړ ووم نو ما خپل يو خوا بل خوا دوه واړه انصاري هلکان اوليدل. په هغوئي کښ يو ما ته په قلاره شان اووئيل: 'يَاعَمِّ! هَلْ تَعْرِفُ اَبَاجَهْل؟' کاکا جانه! تاسو ابُو جَهل

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

پيژنئ؟ ما جواب ورکړو: آو، خو ستاسو د هغه سره څه کار دې؟ هغه اووئيل: زه خبر شوې يم چه هغه ګستاخِ رَسُول دې. په خدائے عَزَّوَجَلَّ مي دِ قسم وي! که هغه ما اوليدو نو زه به په هغه راکيږدم يا خو به هغه مړکړم يا به پرې ځان مړ کړم. هغه بل هلک هم ماسره هم دغه رنګ خبرې اوکړې. (شاعر د دې دواړو هلکانو د جذباتو عکاسی په دې ډَوَل کوی)

قسم کھائی ہے مر جائیں گے یا ماریں گے ناری کو
سنا ہے گالیاں دیتا ہے یہ محبوبِ باری کو

**د شعر ترجمه:** قسم مو خوړلې دې چه يا به مړه شو او يا به دا دوزخی مړ کړو، مونږ اَوريدلې دي چه دې رَسُول الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته بد رَد وائي.

حضرت سَيِّدُنا عبدُالرَّحمٰن بن عَوف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نور فرمائي: ناڅاپه ما اوليدو چه ابُو جَهل دَ خپلو سپاهيانو په مينځ کښې ولاړ وو. ما هغه هلکانو ته د ابُو جَهل په طرف اشاره اوکړه. هغوئي تُورې پرقولې او ورمنډه ئې کړه او په هغه ئې بې واره بې واره ګزارونه اوکړل تر دې چه هغه ئې را غوزار کړو. بيا دواړه د خپل ګران او خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه ابُو جَهل ځائ ته اورَسَوَلو. سرکارِ عالي وقار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې تپوس اوکړو: په تاسو کښې چا هغه قتل کړې دې؟ دواړو اووئيل: ما. شَهنشاهِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا تاسو په وِينو رنګ خپلې تُورې پاکې کړې دي؟ دواړو عرض اوکړو:

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سُنّی)

یارَسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! نه. خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي تورې اوکتلې نو اوئې فرمائیل: کِلَا کُمَا قَتَلَهٗ یعنې تاسو دواړو هغه قتل کړې دې. (بخاری ج2ص356حدیث3141)

دونوں مُنّوں کا بھی حملہ خوب تھا بُوجہل پر
بدر کے ان دونوں ننّھے جاں نثاروں کو سلام

خومره ښکلې وه حَمله د ماشومانو په بُو جَهل
د بدر هغه دواړو جان نثارو ته سلام

## دا ماشومان څوک وو؟

**خوږو خوږو اسلامی وروڼو!** د اسلام د بازونو په شان دا واړه مجاهدين چا چه د قُریش سر لښکر، د خدائے او د رسول دُښمن او دَ دې اُمَّت د کانړې په شان زړه لرونکې او سرکشه فرعون د مرګ کندې ته اورَسَولو، د دوئي مبارک نومونه دي: مُعَاذ او مُعَوِّذ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا. دوئي دواړه په خپلو کښې سَکَه وروڼه وو. د دوئي په عِشقِ رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې صد رحمت او آفرين شه، او د دوئي جذبهٔ جِهاد ته په لکونو سلامونه چه د هلکوانئ او د تِوقو تقالو په ورځو کښې دوئي خپل ژوند په مدنی رنګ کښې رنګ کړې وو او د الله عَزَّوَجَلَّ د لارې په سفر کښې ئې د کافرانو سر لښکر ابو جَهل جَفّاکار سره ډغره اووهله او هغه ئې په خاورو او وِينو کښې اولَړو. شاعر د دې دواړو مَدَنی ماشومانو په ابُوجَهل باندې دَ حملې څه ښکلې منظر کشی کړې ده.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

گرا اس طرح کُندے جوڑ کر شہباز کا جوڑا ... کہ اِک دَم میں صفِ زاغ و زَغن کا سلسلہ توڑا
جوانوں کے مقابِل پہلوانوں کی طرح اَڑتے ... برابر وار کرتے وار سَہتے چوکھی لڑتے
ہٹاتے مارتے اور کاٹتے بڑھتے گئے دونوں ... بَسانِ موج اوجِ ریگ پر چڑھتے گئے دونوں
اُدھر بُوجَہل بھی کرنے لگا بچنے کی تدبیریں ... نہ اس کی دھمکیاں کام آسکیں لیکن نہ تقریریں
بَروئے بازوئے تقدیر تدبیریں نہیں چلتیں ... جہاں شمشیر چل جاتی ہے تقریریں نہیں چلتیں
ہٹا وہ دیکھ کر ان کو یہ پھر اُس کے قریں پہنچے ... جہاں بُوجَہل پہنچا دونوں لڑکے بھی وہیں پہنچے
نہ بھاگا جا سکا تو ان کو دھمکانے لگا کافر ... سِپر کے آسرے پر تیغ چمکانے لگا کافر
وہ پختہ کار یہ کمسِن، یہ پیدل وہ گھوڑے پر ... لگا مرکب کُدانے خشمگیں شیروں کے جوڑے پر
مگر عُشّاق اپنی جان کی پروا نہیں کرتے ... خدا سے ڈرنے والے موت سے ہرگز نہیں ڈرتے
ہوا میں گونج اُٹھیں رعد کی مانند تکبیریں ... گِریں بوجہل پر دو تیز خون آشام شمشیریں
دہن سے آہ نکلی ہاتھ سے تیغ وسِپر چھوٹی ... گرا گھوڑا بھی کھا کر زخم دونوں کی کمر ٹوٹی
زمیں دھنستی تھی جس بدبخت کی ادنٰی سی ٹھوکر پر ... پڑا تھا خون میں لتھڑا ہوا مٹی کی چادر پر
وہ ہڈی اور خوں جس پر ہمیشہ ناز رہتا تھا ... وہی ہڈی شکستہ تھی وہی اب خون بہتا تھا
زباں سے چیختا اور کفر بکتا ہی رہا کافر ... مدد گاروں کو چاروں سمت تکتا ہی رہا کافر
وہ جنگ آور رِسالہ جس کے بل پر زور تھا سارا ... اُسی میں گھس کے دو کمزور لڑکوں نے اُسے مارا
جوانو! قابلِ تقلید ہے اِقدام دونوں کا ... جبینِ لوحِ غیرت پہ لکھا ہے نام دونوں کا
وہ غازی تھے مئے حُبِّ نبی کا جوش تھا اُن کو ... لبِ کوثر پہنچ کر شوقِ نوشا نوش تھا اُن کو

## زوَړند مټ (لاس)

دَ يو روايت مطابق په دې دواړو ورونړو کښې د حضرت سَيِّدُنا مُعاذ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمان دې: ما خپله توره تاؤ کړه او په ابُوجَهل مې

www.dawateislami.net

راکيښودل زما په ورومبي ګزار د هغه د ښپې پنډۍ غوځه شوه او لرې اوغورزيده. د هغه ځوئ عِکرَمه (کوم چه بيا وروستو مسلمان شو) زما په څټ د تُورې ګزار اوکړو خو په هغې زما مټ اولګيدو او غوځ شو او د څرمنې د مزي په زور زوړند شو. ما د زوړند مټ سره په بل لاس باندې تول ورځ په دُښمن تُوره چلوله. زوړند مټ په جنګ کښې مشکلات جوړوَلو نو ما هغه د ښپې نه لاندې کړو او په راښکلو مې د ځان نه لرې کړو. د هغې نه چه ازاد شوم نو بيا د کافِرو سره په جنګ کښې مصروف شوم. د مُعاذ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ زخم جوړ شو او هغوئي د حضرت سَيِّدُنا عُثمان غنی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خلافت د زمانې پورې ژوندې وو. حضرت علّامه قاضی عِياض رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د اِبنِ وَهب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت کړې دې، د جنګ د ختميدو نه پس حضرت سَيِّدُنا مُعاذ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل پريك کړې شوې لاس راوړو او په بارګاهِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې حاضر شو. د طبيبانو طبِيب، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ حَبِيب، حبِيبِ لَبِيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پرې لُعابِ دهن (يعني خپلې لاړې مبارکې) پورې کړې او هغه پريك کړې شوې لاس ئې د اوګې سره اولګولو او جوړشو. (مدارج النبوة ج2 ص87) سُبحٰنَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! که د ماتوونکې وجود شته نو جوړوونکې هم موجود دې.

علی کے واسطے سورج کو پھیرنے والے اشارہ کر دے کہ میرا ابھی کام ہو جائے

**د شعر ترجمه:** د حضرت علی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د پاره نمر راګرځوونکيه خوږه نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم اشاره اوکړئ چه زما هم کارونه سَم شي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## عجيبه جذبه

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** تاسو اوليدل! چه په صحابهٔ کِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به د عبادت په دوران ښنګه وَجد خور وو چه هغوئي ته به د هيڅ قسم تکليف احساس نه کيدو. آو جى، د **الله** عَزَّوَجَلَّ په لار کښې جهاد کول هم عبادَت دې. د سَيِّدُنا معاذ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د پوستکي پورې زوړند لاس سره جنګ کول، بيا هغه د ښپې نه لاندې کول او په راښکلو د ځان نه شلوَل دا داسې خبرې دي چه زړونه ورسره رپيږي خو دا حضرات به د ځان نه داسې بې خبره ووچه د تکليف هيڅ احساس به ورته نه کيدو. د **الله** عَزَّوَجَلَّ د لارې د دې جانبازو او د اسلام د حقيقى سرقربانوونکو په تابعدارئ کښې مونږ لره هم دَ دعوتِ اسلامى د سنتو د تربيت په مَدَنى قافلو کښې سفر کول پکار دي. او د **الله** عَزَّوَجَلَّ په لار کښې راتلونکي تکليفونه په خندا او خوشحالئ سره برداشت کول پکار دي.

سيکھنے سنّتيں قافلے ميں چلو　　لوٹنے رحمتيں قافلے ميں چلو
ہوں گی حل مشکليں قافلے ميں چلو　　پاؤ گے راحتيں قافلے ميں چلو

د سنّتو د زده کولو د پاره قافِلو کښې لاړشئ
د رحمتونو د ګټلو د پاره قافِلو کښې لاړشئ
حل به شى مشکلات قافلو کښې لاړشئ
درنصيب به شي خوشحالئ قافلو کښې لاړشئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزالعمال)

# د ابُوجَهل سر

**سركارِنامدار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک شته چه ابُوجَهل اوګوري او د هغه حال راوړي؟ نو حضرت سَيِّدُنا عبدالله بن مسعود رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ لاړو، په مړو كښې ئې اوليدو چه ابُو جَهل زخمى پروت وو او ساه ئې ختله، د هغه ټول بدن په فولادو كښې پټ وو او د هغه په لاس كښې توره وه او په ورنُونو ئې پرَته وه، د زخمونو د تكليف په وجه هغه خپل يو اندام ته هم حركت نه شو وركولې. سَيِّدُنا عبدالله بن مسعود رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د هغه په ښنه كيښوده، په دې حال كښې هم د هغه د تَكَبُّر دا عالَم وو چه په سپک نظرئ سره ئې اووئيل: اے د چيلو [بيزو] څروونكيه! ته ډير اوچت او سخت ځائ ته اوختلې. (السيرت النبويه لابن هشام ص263,262) حضرت سَيِّدُنا عبدُالله بن مسعود رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: ما خپله پخه توره د ابُو جَهل په سرګزارونه شروع كړل، د دې سره په توره باندې د هغه لاس سست شو نو ما ترې توره رانښكوده. د ځنكدن په حالَت كښې هغه سر راپورته كړو او تپوس ئې اوكړو: د چا فتح اوشوه؟ ما ورته اووئيل: لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ. يعنې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره فتح ده. بيا ما د هغه كيره اونيوله، خندا مې وركړو او ورته مې اووئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ اَخْزَاكَ يَاعَدُوَّاللهِ يعنې د هغه الله عَزَّوَجَلَّ شكر دې چا چه ته ذليله كړې، اے د الله دُښمنه. ما د هغه زغره د هغه د ښتې نه لرې كړه او د هغه په خپله تُوره مې د هغه په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترخو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

خټه تيز ګزار اوكړو چه د هغې سره د هغه خټه كټ شو او سر ترې جُدا شو. بيا ما د هغه نه وَسله، زغره وغيره اوويستله او سر مې ترې يوړو په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كښې حاضر شوم او عرض مې اوكړو: يارسولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا د الله د دُښمن ابُو جَهل سر دې. سُلطانِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اوفرمائيل: اَلحَمدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَعَزَّ الاِسْلَامَ واَهْلَهٗ. يعنې د الله عَزَّوَجَلَّ شكر دې چا چه اسلام او اهلِ اسلام ته عِزَّت وركړو. بيا ئې اوفرمائيل: په هراُمَّت كښې يو فرعون وى، د دې اُمَّت فرعون ابُو جَهل وو. (سُبُل الهُدٰی ج4 ص52,51)

## د ابو جَهل آخِري بكواس

د ابوجَهل د الله عَزَّوَجَلَّ د رسول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د عِناد او دُښمنئ جذبه خو اوګورئ، ښپې ترې غوځې شوې دې، بدن ئې زخمي زخمي دې، مرګ ئې په سر ولاړ دې، په دې حالت كښې هم د هغه سنګدله، اَزلي شقي (يعني د هميشه نه بدبخته) دَ شقاوت (يعني د بدبختئ) عالَم دا دې چه هغه حضرت سَيِّدُنا ابن مَسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته اووئيل: خپل نبي ته زما دا پيغام اورَسَوه چه زه ټول عمر د هغه دُښمن ووم او اوس هم زما د دُښمنئ جذبه ډيره زياته سخته ده. حضرت سَيِّدُنا عبدُالله اِبن مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ چه كله د سركارِ والا تَبار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار كښې د هغه ازلي بدبخته دا جمله عرض كړه نو د الله عَزَّوَجَلَّ محبوب، دانائے غُيوب، مُنَزَّہٌ عنِ الْعُيُوب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زما دَ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

اُمَّت فرعون دَ ټولو اُمَّتُونو د فِرعونیانو نه زیات سنګدله او کینه ساتونکې دې د موسٰی (عَلَیْہِ السَّلَام) فرعون چه کله (د بحرِ احمر) چپو راګیر کړو نو اوئې وئیل:

قَالَ اٰمَنۡتُ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا الَّذِیۡۤ اٰمَنَتۡ بِهٖ بَنُوۡۤا اِسۡرَآءِیۡلَ وَ اَنَا مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ ﴿۹۰﴾ (پاره 11،یونس :90)

**مفهوم ترجمهٔ کنز الایمان**: اوئې وئیل ما ایمان راوړو چه بل په رښتینې معبود (یعني د عبادت لائق) نشته سِوا د هغه نه په چا چه بنی اسرائیلو ایمان راوَړې دې او زه مسلمان یم.

خو د دې اُمَّت فرعون چه کله مړکیدو نو د هغه د اسلام سره دُښمني او سرکشي د کمیدو په ځائ نوره زیاته شوه.

(محمّدرسول‌الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ج 3 ص 431، تفسیر کبیر ج 11 ص 225,224)

## د قُدرت ښکلې طریقې

**خوږو خوږو اسلامی وروڼو**! د الله عَزَّوَجَلَّ د قدرت هم ښکلې طریقې دي نُومَوړو نُومَوړو توریالو په **ابُو جَهل** د تورو ګزارونه اوکړل خو هغه مړ نه شو. آخِر دا چه دوه مَدَني ماشومانو هغه را اوغورزَولو! په دې حَمله کښې هغه بالکل پاتې راغې او د لاس، ښپو نه ئې هیڅ کار اونه شو، د خوزیدو طاقت پکښې پاتې نه شو خو د دې سخت بدن والا ساه نه وَتله، د الله عَزَّوَجَلَّ قدرت چه د آخِر وخته پورې د ده هوش او فِکر په ځائ وو. په دې کښې حکمت دا وو چه دا د غرور او د تَکَبُّر کوډې د هغه مَظلوم او بې وَسه بنده په لاس جَهَنَّم ته اوسپارل شو کوم چه مالي

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

طور باندې تش، بدني طور کمزورې وو، او دَ قبيلې د طرف نه ورته هيڅ مدد نه وو حاصل. د اسلام راوړو په وجه به **ابُو جَهل**، حضرت عبدالله بن مسعُود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته کنزل کول، او د سر مبارک د ويښتو نه به ئې اونيولو او څپيړې به ئې ورکولې، هغه وخت به هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د هيڅ قسم جواب نه شو ورکولې، نن هم هغه صحابی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د **الله** عَزَّوَجَلَّ په مدد سره د هغه په سينه کښيناستو، د هغه سر په لتو وَهې، د پاسه پرې ګرځي، د هغه د لاس نه تيره توره اخلې او د هغه سر پرې جُدا کوي، په داسې وخت کښې ابُو جَهل بې هوشه نه دې په هوش کښې دې، خپله بې عِزَّتي او رُسوائي په سترګو وِيني خو خوزيدې نه شي.

حضرت سَيِّدُنا عبدُاللهابن مسعود رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په خپلو کمزورو لاسونو د هغه د تَڪَبُّر نه ډک سر پريك کړي او را ئې وړي د **الله** عَزَّوَجَلَّ د خوږ حَبِيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پيزار مبارک لاندې ئې غوزار کړي. د ابو جهل د بې عزتئ مرګ د ټولو کافرانو او مشرکانو او د ټولو منافِقانو د پاره د عبرت لوئي مقام دې.او يقيناً عِزَّت د **الله** و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او مسلمانانو د پاره دې. څنګه چه په سيپاره 28 سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْن آيت 8 کښې ارشاد دې:

وَ لِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَ لِرَسُوْلِهٖ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۸﴾

مفهوم ترجمهٔ کنز الايمان: او عِزَّت خو د الله او د هغه د رَسُول او د مسلمانانو د پاره دې خو منافقين نه دې خبر.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنزالعمال)

## د مسلمانانو سامانِ جنګ

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** ابُو جَهل په **غزوهٔ بدر** کښې قتل کړې شوې وو. د غزوهٔ بدر واقِعه په 17 رمضانُ المُبارک سن 2 هجری کښې د بدر په مقام کښې پيښه شوې وه. په دې کښې د مسلمانانو شمير ډير کم يعني صرف 313 وو، د دوئي سره صرف دوه اسونه، اويا اوښان، زاره کمانونه، ماتې ګوډې نيزې او زرې توري وې. خو د دوئي جذبهٔ ايمانی بې مثاله وه. دوئي ته په سامانِ جنګ باندې نه بلکه په **الله** عَزَّوَجَلَّ او **رسول** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې يقين وو.

## د کفارو سامانِ جنګ

**يو** طرف ته د مسلمانانو د کمزورئ دا حال وو بل طرف ته د الله او د رسول د دُښمنانو شمير يو زر (1000) دې، 100 تيز رفتار اسونه دې چه په هغې زغرې اغوستې 100 جنګيالې سواره دې، 700 د اوچت نسل اوښان دې، د خوراک څښاک د ذخيرو انبارونه ورلو والا بار ورونکې خاروې د دې نه علاوه دې. د نهه نهه، لس لس اوښانو هره ورځ حلالولو سره د کافرانو د لښکر درَنه ميلمستيا کيږی، هره شپه د عيش او عِشرت محفلونه جوړيږی چه په هغې کښې شرابونه څښل شې، ښکلې وينزې په خپله ګډا او مستو سَندرو د هغوئ د قهر او د غضب اور نور را تَودَوې. د دې باوجود د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غلامانو په مخونو د سکون او اطمِنان نور را وَرِيږې. د

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما بانديې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندي درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

دوئي په زړونو کښې د ايمان او د يقين شمع روښانه ده، د وَحدَت د شرابو په نشه کښې مَست د خپل پروردګار عَزَّوَجَلَّ نوم اوچتولو د پاره او د هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاک دِين د بيراغ [جَنډه] اوچته پرقولو په شوق کښې د خپلو ځانونو قربانَولو د پخې ارادې سره د الله عَزَّوَجَلَّ د رضا د منزل طرف ته په بې خودئ کښې مَست په مخه روان دي، دوئي دَ خپل شمير د کمي، د سامانِ جنګ د کمي او د دُښمن د ګنړ شمير او د سامانِ جنګ د ډير والي هيڅ پرواه نه لري. د باطل مضبوطې قلعه ګانې د ښپو په ټوکرو ټکړې ټکړې کولو په اراده د بې اوبو مهي په شان تيوښه وهي. د شهادت شوق هغوئي بې قراره کړي دي، د بدر په جنګ کښې د ځان قربانولو والَو په عظمت او شان کښې شاعر وائي:

وہاں سینوں میں کینہ تھا شقاوت تھی عداوت تھی　　یہاں ذوقِ شہادت اور ایماں کی حلاوت تھی

**د شعر ترجمه**: هلته په سينوکښې کينه وه بدبختي او دُښمني وه

دلته د شهادت شوق او د ايمان خواږه وو

مجاہد جن کو وعدے یاد تھے آیاتِ قرآں کے　　کھڑے تھے صبح سے ڈٹ کر مقابل فوجِ شیطاں کے

**د شعر ترجمه**: مجاهدو ته د قرآن د آياتونو وعدي يادې وې

د سحر نه د شيطان د فوځ په مقابله کښې ولاړ وو

جو غیرت مند راہِ حق میں تھے مصروفِ جانبازی　　ابد تک نام ان کا ہوگیا اللہ کے غازی

**د شعر ترجمه**: کوم غيرت مندو چه د حق په لاره کښې د ځانونو قرباني

ورکړه تر ابده پورې د هغوئي نومونه د الله غازيان شو

غزا حق کیلئے حق کیلئے ان کی شہادت تھی　　یہ جینا بھی عبادت تھا یہ مرنا بھی عبادت تھی

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

**د شعر ترجمه**: د هغوئي غزا د حق د پاره، د هغوئي شهادت د حق د پاره،
دا ژوند هم عبادت وو دا مرګ هم عبادت وو

شہادت کالہو جن کے رُخوں کا بن گیا غازہ کُھلا تھا ان کی خاطر دائمی جنت کا دروازہ

**د شعر ترجمه**: د شهاد ت وينه چه د چا د مخونو ښائست جوړه شوه د هغوئي
د پاره د هميشه اوسيدو والا جنت دروازې بيرته وې

شہادت اعلٰی منزل ہے مسلمانی سعادت کی وہ خوش قسمت ہیں مل جائے جنہیں دولت شہادت کی

**د شعر ترجمه**: شهادت اوچت منزل دې، مسلمانی خوش بختی ده،
هغه خوش قِسمته دي چا ته چه د شهاد ت دولت نصيب شي

شہادت پاک کے ہستی زندہ جاوید ہوتی ہے یہ رنگیں شام، صبحِ عِید کی تمہید ہوتی ہے

**د شعر ترجمه**: څوک چه شهيد شي هغه د هميشه د پاره ژوندي شي،
دا په وينو رنګ ماښام د اختر د سحر شروع وي

شہید اس دارِ فانی میں ہمیشہ زندہ رہتے ہیں زمیں پر چاند تاروں کی طرح تابندہ رہتے ہیں

**د شعر ترجمه**: شهيدان په دې فانی دُنيا کښې هميشه ژوندي اوسی
په زمکه د ستورو او سپوږمۍ په شان ځليږی

اسی رنگت کو ہے ترجیح اس دُنیا کی زینت پر خدا رحمت کرے ان عاشقانِ پاک طِینَت پر

**د شعر ترجمه**: د شهادت په وينو رنګ کيدل د دُ نيا د ښائست نه ډير ښه دي
الله دِ د هغه پاکو عاشقانو په نيک فطرت رحمت اوفرمائي.

سما سکتی ہے کیونکر حُبِّ دُنیا کی ہوا دل میں بسا ہو جب کہ نقشِ حُبِّ محبوبِ خدا دل میں

**د شعر ترجمه**: په هغه زړه کښې د دُنيا محبت څنګه راتلې شی په
کوم زړه چه د الله د محبوب د محبت مهر لګيدلې وي

محمد کی محبت دینِ حق کی شرطِ اوّل ہے اسی میں ہو اگر خامی تو سب کچھ نامکمل ہے

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (کنزالعمال)

**د شعر ترجمه:** د محمد صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت د اسلام ورومبې شرط
دې كه په دې كښې څه كمې وی نو بيا هر شې نيمګړې دې

محمّد کی غلامی ہے سَنَد آزاد ہونے کی خدا کے دامنِ توحید میں آباد ہونے کی

**د شعر ترجمه:** د محمد صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامی د ازادئ او د الله عَزَّوَجَلَّ
د توحيد په لمَن كښې د اوسيد و سَنَد دې

محمد کی محبت آنِ ملّت شانِ ملت ہے محمد کی محبت روحِ ملّت جانِ ملت ہے

**د شعر ترجمه:** د محمد صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مينه د قوم لوئ والې، شان، روح او ځان دې

محمد کی محبت خون کے رشتوں سے بالا ہے یہ رشتہ دُنیوی قانون کے رشتوں سے بالا ہے

**د شعر ترجمه:** د محمد صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مينه د وينو د خپلوو نه اوچته ده،
دا خپلوَلی د دُنيا د قانون د خپلوَلو نه اوچته ده.

محمد ہے متاعِ عالَمِ ایجاد سے پیارا پدر، مادر برادر مال جان اولاد سے پیارا

**د شعر ترجمه:** محمّد صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو د دولت نه ګران دې،
د مور، پلار، ورور، مال، اولاد نه ګران دې

یہی جذبہ تھا ان مردانِ غیر تمند پر طاری دکھائی جن کے ہاتھوں حق نے باطل کو نگوں ساری

**د شعر ترجمه:** هم دا جذبه په هغه غيرتمندو نارينَو باندې خوره وه
د چا په لاسو چه الله د باطلو سرونه ښكته كړل

## د حيرانوونكې جذبې راز

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! دا پخې ارادې، د باطل سره د ډغرې وهلو شوق، او بهادرې هغوئې كوم ځائ موندلې وه؟ يقيناً دا هر څه د الله و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت او د هغه دُعا ګانو نتيجه وه كومې چه د مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مباركو ژبو نه وَتلې وې.

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

چنانچه امام بَیهَقی رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه نه روایت دي: حضرت عَلِيُّ المُرتَضٰی، شیرِخدا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: د بدر په ورځ په مونږه کښې د حضرت مِقداد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه سِوا بل یو هم په سوَرلۍ سور نه وو هغه په برَګ اَس سور وو، په هغه شپه ټول اُوده وو، خو د الله عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ټوله شپه نفلونه کول او ژړل ئې. (دلائِل النبوه ج3 ص49)

سُبحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ د اوښکو په ژبه چه د فتح او نصرت [مدد] د پاره کومې دُعاګانې غوښتې شوې وې د هغو د قبلیدو به څه عالَم وي!

## د فرښتو په ذریعه مدد

**اَمِیرُالمُؤمِنِین**، اِمامُ العَادِلِین، حضرت سَیِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: د بدر په ورځ سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ په قبله اودریدو او دواړه لاسونه ئې د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې اوچت کړل او خپل پروردګار عَزَّوَجَلَّ ته ئې فریاد شروع کړو تر دې چه دَ اِستِغراق [یعنې د ډیرې تَوَجُّه] په عالَم کښې ئې د مبارکې اُوګې نه څادر مبارک زمکې ته تشریف راوړو، صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ زر راغلو، څادر مبارک ئې راپورته کړو او د سلطانِ بَحر و بر صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارکه اُوګه باندې ئې واچولو، بیا ئې د ډیرمحبت په انداز کښې د شا د طرف نه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دَ سینې سره اولګولو او عرض ئې اوکړو: آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو د خپل رب عَزَّوَجَلَّ نه دا دُعا ډیره ده. یَقِیناً الله تبارَکَ وتعالیٰ به خپله وعده پوره فرمائي. هم دغه وخت جبریل

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

اَمين عَلَيْهِ السَّلَام دا آيت (يعني سيپاره 9 سُورَةُ الْاَنْفَال آيت9) راوړو او په خدمتِ اقدس کښې حاضر شو:

اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓىِٕكَةِ مُرْدِفِيْنَ ﴿۹﴾

**مفهوم ترجمهٔ کنز الايمان:** چه کله تا خپل رب ته فرياد کولو نو هغه ستا (دُعا) قبوله کړه چه زه ستاسو مدد کولو والا يم د زرګاؤ فرښتو په قطار سره.

(مسلم ص969 حديث1763)

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د رسولانو د سرتاج، صاحبِ معراج صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعاګاني قبولې کړې شوې. زما آقا اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي:

اجابت کا سہرا عنایت کا جوڑا ‏ دلہن بن کے نکلی دعائے محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم
اجابت نے جھک کر گلے سے لگایا ‏ بڑھی ناز سے جب دعائے محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

**د شعر ترجمه:** د حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُبارَکې ژبې نه چه کومه دُعا اووځي نو هغه داسې قبليږي چه قبوليت هغې له پخپله غاړه ورکوي.

## د جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام اس

په ”خزائنُ الْعِرفان“ کښې دي، حضرت ابن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا فرمائي: مسلمان به هغه ورځ په کافرانو پسې په منډه ورپسې وو او کافر به د مسلمان نه مخکښې مخکښې په تيښته روان وو ناڅاپه به د بره نه د کوړې اواز راغې او د سواره [کس] به دا خبره اوريدې شوه: ”اَقْدِمْ حَيْزُوْمُ“ يعني ”اے حيزوم مخکښې ورشه“ (حيزوم د حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام د اَس نوم دې) او مونږ به اوليدو چه کافِر به راپريوتو، مړ به شو او د هغه پوزه به

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

په تُوره پريك كړې شوه او مخ به ئې زخمى شو. صحابۀ كِرام چه كله د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت كښې دا حالات بيان كړلو نو حضور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "دا د دريم آسمان مدد دې." (مسلم ص 969)

يو بَدري صحابى حضرت ابوداؤد مازِنى رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: زه په غزوۀ بدر كښې د يو كافر په خټ وهلو پسې شوم، زما د تورې ور رسيدو نه مخكښې ما اوليدو چه د هغه سر غوځ شو او ترې اوغورزيدو، زه پوهه شوم چه دا بل چا قتل كړو. (تفسير دُرِّمنثور ج4 ص 35,36)

حضرت سَهل بن حُنيف رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د بدر په ورځ به چه په مونږه كښې كوم يو تورې له اشاره وركوله نو د هغه د تورې د رسيدو نه به مخكښې د مُشرِک سر د بدن نه جدا شو او ښكته به ترې اوغورزيدو. (اَيضًا ص 33) (خزائنُ العِرفان ص 335،336 ملخّصًا و مخرّجًا)

## دُعا دَ مؤمن وَسله ده

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! چه خومره هم مشكل حالات را پيدا شي مونږ له نظر په اسبابو نه بلكه په مُسَبِّبُ الْاَسْبَاب جَلَّ جَلَالُہٗ ساتل پكار دي او د دُعا نه هيڅ كله غفلت نه دې كول پكار. ځكه چه فرمانِ مُصطفٰى صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: اَلدُّعَآءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِن يعني دُعا د مؤمن وَسله ده. (مُسنَدِ اَبِي يعلٰى ج 1 ص 215 حديث 435) په غزوۀ بدر كښې دُښمن په خپل كُنړ شمير او په ډيرې وسلې فخر لرلو، او مسلمانانو ته د الله عَزَّوَجَلَّ او د هغه د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داډ وو. مجاهِدين د جهاد د جذبې نه ډک وو او د مسلمانانو بچې بچې د شهادت په شوق كښې مَست وو. ځكه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

# چه څوک ژاړی د هغه کار سمیږی

**د مشهور** صحابي حضرت سَیِّدُنا سعد بن ابي وَقّاص رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ کشر ورور حضرت سَیِّدُنا عُمیر بن ابی وَقّاص رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ چه هغه لا اوس وړوکې وو د غزوهٔ بدر په ورځ اخوا دیخوا پټیدو. حضرت سَیِّدُنا سعد رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي: ما تري په حیرانتیا سره تپوس اوکړو: وَلې پټیږې؟ اوئې وئیل: هسې نه چه سرکارِمدینه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما اووینې او دَ وړوکوالي په وجه مې جهاد ته د تلو نه منع کړی. وروره! زه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لار کښې د جنګ کولو ډیر شوق لرم، کاش چه ما ته شهادت نصیب شی. آخِر د سرکارِنامدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تَوَجُّه مبارکه کښې راغلو او د وړوکوالي په وجه ئې منع کړو. حضرت سَیِّدُنا عُمیر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ د شوق د زیات والي په وجه په ژړاشو. وائي "چه څوک ژاړي د هغه کار سَمیږی" نو ځکه د هغوئي د شهادت په خواهش کښې ژړا هم په کار راغله او تاجدارِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اجازت ورکړلو. په جنګ کښې شریک شو او دویم خواهش ئې هم پوره شو او هغه دا چه هم په دغه جنګ کښې شهادت هم ورنصیب شو. د هغوئي مشر ورور حضرت سَیِّدُنا سعد بن ابی وَقّاص رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي: زما ورور عُمیر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ وړوکې وو او تُوره غټه وه ځکه به ورله ما د تُورې په موټئ کښې مزي غوټه کولو چه هغه اوچته شی.

(کتاب المَغازی للواقدي ج1 ص21)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

**خوږوخوږو اسلامی ورونړو!** تاسو اوليده! که لوئي وو او که واړه وو د هغوئي مقصد صرف د الله عَزَّوَجَلَّ په لار کښې ځان قربانول وو، ځکه خو کاميابئ د هغوئي قدمونه ښکُلَوَل. د حضرت سَيِّدُنا عمير رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د جهاد جذبه او د شهادت شوق تاسو اوليدو او د هغوئي د مشر ورور حضرت سَيِّدُنا سعد بن ابی وَقَّاص رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ د هغوئي سره د امداد په باره کښې هم تاسو واوريدل. بيشکه نن هم مشر ورور د کشر ورور سره او پلار د ځوئ سره امداد کوي خو صرف په دُنياوي کارونو کښې او صرف د دُنياوي مستقبل [يعنې د راتلونکي ژوند] د کاميابئ د پاره. افسوس! زمونږه نظر صرف د دُنيا د يو څو ورځو د ژوند په ډوَل سنګهار دې او د صحابهٔ کِرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُمۡ اَجۡمَعِیۡن سترګې د آخرت د ژوند په سپرلي لګيدلي وې. مونږ ځانونه د دُنيا په مزو قربانوو او هغوئي د آخرت د مزو غوښتونکي وو. مونږه د دُنيا د ژوند د پاره د هرقسم تکليفونه تيرَوَلو د پاره تيار اوسو او هغوئي به د آخِرت د کاميابئ په خواهش کښې د دُنيا هرقسم مزې د ښپو نه لاندې کولې، او د سختو تکليفونو، مصيبتونو او په وِينو رنګينو تُورو نه لاندې به هم په مُسکا وو.

رب ِّ کعبہ کے پرستار وہ مردان جلیل! | پاسبانِ حرم، وارِثِ ایمانِ خلیل!
وہ سرِ فرشِ زمیں عزّتِ حوّا کا ثبوت | وہ تہِ چرخِ بریں عَظَمتِ آدم کی دلیل
راست گفتار و کشادہ دل وبیدار دماغ | مدّتُ العمر جو آفات کے سایوں میں پلے
کبھی پابندِ سلاسِل کبھی شعلوں کے حریف | کبھی انگاروں پہ لوٹے کبھی کانٹوں پہ چلے
کبھی تپتے ہوئے پتھر کی سِلیں سینوں پر ک | بھی کاندھوں پہ اٹھائے ھوئے وہ بارِ گراں

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

کبھی پُشتوں پہ سلاخوں کے سلگتے ہوئے داغ
کبھی چہروں پہ طمانچوں کے المناک نشان
کبھی نیزوں کے سزا وار کبھی تیروں کے
کبھی طعنوں کے کچوکے کبھی فاقوں سے نڈھال
کبھی چکّی کی مشقّت کبھی تنہائی کی قید
کبھی اپنوں کی ملامت کبھی غیروں کا اُبال
کبھی بہتان طرازی کبھی دُشنامِ غلیظ
کبھی تضحیک و تمسخُر، کبھی شبہات و شکوک
کبھی روحانی اذیت کبھی توہینِ ضمیر
کبھی اینٹوں سے تواضع، کبھی کوڑوں کا سلوک
کبھی محبوس گھروں میں تو کبھی خانہ بدر
چیتھڑے تن کے نگہباں، کبھی وہ بھی نہیں
تشنگی کا ہے وہ عالم کہ الٰہی توبہ
حلق کو چاہیے تھوڑی سی نمی وہ بھی نہیں
آزمائش کے لپکتے ہوئے ہنگاموں میں
وقت نے ان کے نشاناتِ قدم دیکھے ہیں
تختۂ دار پہ آئے تو اسے چوم لیا
ایسے جی دار بھی تاریخ نے کم دیکھے ہیں
کس عزیمت کے تھے مالِک یہ نُفُوسِ قُدسی
جو پڑی وقت کے ہاتھوں وہ کڑی جھیل گئے
صرف اسلام کی خاطر، فقط اللہ کیلئے
جان سے کھیلنا آتا تھا اُنہیں کھیل گئے
ہم تک اسلام جو پہنچا تو صرف اُن کے طُفیل
یہ غلامانِ خدا نورِ رِسالت کے امین
سر بسر پیکرِ اِیثار، مجسم ایمان
حشر تک اِن سا ہو پیدا کوئی ممکن ہی نہیں

خوږوخوږو اسلامی وروڼو! د بيان په آخره کښې د سنتّو فضيلت او يو څو سنّتونه او آداب د بيانولو سعادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشاهِ نُبُوَّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چه زما د سنّتو سره مُحَبَّت اوکړه هغه زما سره مُحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مُحَبَّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (ابنِ عساکر ج9 ص343)

سینہ تیری سنّت کا مدینہ بنے آقا
جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مي دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا
جنّت کښې ګاونډي د ځان مي کړه خوږه آقا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرَانِي)

## "يَارَبَّ الْعِبَاد! د مکې مدينې زيارت مې نصيب کړې" د دوو ديرشو حروفو په نسبَت د سفر 32 مَدَني ګلونه

(1) شرعاً مسافر هغه دې څوک چه د دريو ورځو د مزل د تګ په اراده سره د خپل اوسيدو د ځائ نه مثلاً د ښار يا کلي نه اووتو، په خشکئ کښې د دريو ورځو سفر د مزل نه مطلب ووه پنځوس نيم 57.5 مِيله (يعني تقريباً 92 کلوميټره) مزل دې. (فتاوٰی رضويه مخرّجه ج8 ص270,243)

(2) د شرعي سفرکوونکي د پاره ضروري دي چه هغه په سفر کښې د پيښيدو والا د ضروری مسئلو احکام ياد کړې. (د مکتبةالمَدينه رساله "مسافر کی نماز" لوستل ډير فائده مند دي)

(3) چه کله سفر کوئ نو غوره دا ده چه د ګل، پانجشنبه يا د خيالي په ورځ ئې اوکړئ. (مُلَخَّص از فتاوٰی رضويه مخرّجه ج23 ص400)

(4) سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سَيِّدُنا جُبَير بن مُطعِم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته په سفر کښې د خپلو ټولو ملګرو نه د زيات خوشحاله اوسيدو د پاره د روانيدو نه مخکښې د دې وظيفې لوستلو نصيحت اوکړو. (۱) سُوْرَةُ الْكٰفِرُوْن (۲) سُوْرَةُ النَّصْر (۳) سُوْرَةُ الْاِخْلَاص (٤) سُوْرَةُ الْفَلَق (٥) سُوْرَةُ النَّاس هرسورت يو يو ځل او د هر سورت په شروع کښې بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ او د ټولو نه په آخِره کښې هم يو ځل بِسۡمِ اللّٰه پوره اولولئ (داسی به سورتونه پينځه شي او بِسۡمِ اللّٰه شريف به شپږ کَرَته شي) سَيِّدُنا جُبير بن مُطعِم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: هسې خو زه مالدار ووم خو چه سفر به مې کولو نو (د ټولو ملګرو نه به)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

زما حال خراب وو، ذکر کړې شوي سورتونه مي د سفر نه مخکښې هميشه لوستل شروع کړل د دي په برکت سره به د بيرته راتلو پورې خوشحاله اومالدار اوسيدم. (ابو يعلٰی ج6 ص265 حديث 7382)

(5) د روانيدو په وخت کښې دِ د خپلو، خپلوانو او دوستانو سره ملاقات اوکړي او د هغوئي نه دِ د خپل قصور مُعافي اوغواړي، اوس په هغوئي لازم دي چه د زړه نه ئې معاف کړي. (بهارِشريعت ج1 ص1052)

(6) د سفر جامې دِ واغوندي، په کور کښې دِ څلور رکعته نفل داَلْحَمْدُاو د قُلْ(هُوَاللّٰه د پوره سورت) سره ادا کړي او بَهَر ته دِ اوځي. هغه رکعتونه به د هغه د بيرته راتلو پورې د هغه د کوروالَوْ او د مال حفاظت کوي. (ايضًا)

(7) دوه رکعته [نفل] هم کولې شي، حديث شريف کښې دي: ”چا د خپل کور والؤ سره د هغه دوو رکعتونو نه بل غوره شې نه دي پريښودې، کوم چه د سفر د ارادې په وخت کښې د هغوئي خوا ته اوکړې.“
(مُصَنّف ابنِ ابی شیبه ج1 ص529)

(8) په سفر کښې که درې يا د دې نه زيات اسلامي ورونړه وي نو يو دِ امير جوړ کړې ځکه چه دا سُنَّت دي. څنګه چه په حديثِ پاک کښې دي: ”کله چه په سفر کښې درې کسان وی نو يو دِ خپل اَمِير جوړ کړی.“
(ابوداؤد ج3 ص51 حديث 2609)

(9) په دې کښې (يعنې امير جوړولو کښې) د کارونو بندوبست ښه کيږی، سردار (يعنې امير) هغه جوړ کړئ ځوک چه ښه اخلاقو والا، عقلمند او ديندار وي، سردار (يعنې امير) له پکاردي چه د ملګرو د ارام او اسانئ د ځان نه زيات خيال ساتي. (بهارِشريعت ج1 ص10521)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

(10) آئینه (یعني شیشه)،رانجه، ګمنز، مسواک دِ د ځان سره ساتي وَلي چه سُنَّت دي. (اِیضًاص1051)

(11) د الله عَزَّوَجَلَّ په ذکر دِ خپل زړه مشغولوي نو فرښتې به ورسره ملګري وی، په خرابو شعرونو او بې فائده خبرو دِ ځان نه مشغولوي ګني شیطان به ورسره ملګرې وي. (فتاوٰی رَضَوِیّه مخرّجه ج10ص729)

(12) که دَ دُښمن یا د ډاکو یره وي نو سُوْرَةُ لِاِیْلٰف پوره اولولئ اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د هر مُصیبت نه به په آمان کښې اوسئ. دا عمل مجرَّب دي. (الحصنِ الحصِین ص80)

(13) که سفر وي او که حضر (یعني قیام) وي چه کله هم څه غم یا پریشاني پیښه شی لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه او حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْل په کثرت سره لولئ، اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ مُشکلات به آسانیږي.

(14) د لاري د ختو په طرف یا په پوړو باندې د ختلو په وخت او بس یا بل یو ګاډې چه کله مخ په بره خیژي نو اَللّٰهُ اَكْبَر [لولئ] اوپه پوړو یا مخ په ښکته چه کوزیږئ نو سُبْحٰنَ الله لوَلئ.

(15) که (بل) څوک په سفر روانیږي نو د هغه (مسافر) سره دِ مصافحه اوکړي یعني لاس دِ ورسره مِلاؤ کړي او د هغه د پاره دِ دا دُعا اوغواړي: اَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ وَاَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ ترجمه: زه ستا دین، ستا امانت او ستا د عمل خاتمه الله عَزَّوَجَلَّ ته سپارم. (اِیضًاص79)

(16) د مقیم د پاره دِ مُسافر دا دُعا اوغواړي: اَسْتَوْدِعُكَ اللهَ الَّذِىْ لَا يُضِيْعُ وَدَائِعَهٗ ترجمه: زه تا الله عَزَّوَجَلَّ ته سپارم چه هغه حواله شوی امانتونه نه ضائع کوي. (ابنِ ماجه ج3ص372 حدیث2825)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پریښوده. (طَبَرانِي)

(17) منزِل باندې د کوزیدو (یعني د رسیدو) په وخت کښې دا اولولئ: اَعُوْذُ بِکَلِمَاتِ اللهِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ترجمه:زه د الله عَزَّوَجَلَّ د کاملو کلماتو په ذریعه سره د ټول مخلوق د شر نه پناه غوارم. اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ د هر نقصان نه به په حِفاظت کښې اوسئ. (الحِصنُ الحَصين ص 82)

(18) د مسافر دُعا قبليږي، ځکه (په سفرکښې) د ځان د پاره، د مور او پلار او د بال بچو او د عامو مسلمانانو د پاره دُعا کوئ.

(19) که په سفر کښې څوک بیمار شي یا بیهوشه شي نو د هغه ملګرې د هغه مریض مال د هغه د ضرورتونو د پاره بې تپوسه لګولې شي. (ردالمُحتارج9 ص335,334، بهارِشریعت ج3 ص222)

(20) په مسافر باندې واجب دي چه په مانځه کښې قَصْر اوکړي یعني د څلور رکعته والا فرض دِ دوه اوکړي، د ده د پاره هم دوه رکعته پوره مونځ دي. (بهارِشریعت ج1 ص743، عالمګیری ج1 ص139)

(21) په ماښام او وِترو کښې قَصْر نشته.

(22) په سُنّتو کښې قَصْر نشته بلکه پوره به کیږی، د یَرې او د هلې ګُلې په وخت کښې سُنَّت معاف دي او د امن په حالت کښې کول دي. (عالمګیری ج1 ص139)

(23) کوشش کوئ چه په هوائي جهاز، ریل ګاډي یا په بس کښې په داسې وخت کښې سفر کوئ چه د مانځه وخت پکښې نه راځي.

(24) د اوده کیدو په وختونو کښې بالکل داسې غفلت [یعني بې پرواهي] مه کوئ چه [د هغې په وجه] مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ مونځ قضا شي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

(25) د سفر په دوران کښې هم په مانځه کښې سُستي مه کوئ، خاص طور په جهاز، ریل ګاډي او د اوګد سفر په بس کښې د مخکښې نه اودس تیار ساتئ.

(26) که په لار کښې بس خراب شی نو ډرائیور یا د بس مالکانو ته په بد رد وئیلو د خپل آخرت خرابولو په ځائ د صبر نه کار واخلئ او د جنّت ګټلو د پاره په ذکر او درود کښې مشغول شئ.

(27) په ریل ګاډی، بس وغیره کښې د نورو مسافرو د حق خیال ساتئ او د هغوئي سره ډیر ښه سلوک کوئ، خیر دې که پخپله تکلیف تیر کړئ خو هغوئي له آرام ورکوئ.

(28) په بس وغیره کښې په زوره زوره خبرو کولو او په بَق بَق خنداګانو سره نور مسافر د ځان نه مه بد ظنه کوئ.

(29) د رش په وخت کښې که څوک ضعیفه یامریض اووینئ نو د ثواب په نِیَّت په بس وغیره کښې په زور هغه په خپل سِیټ کښینوئ.

(30) په پوره کوشش سره د فلمونو او سَندرو، باجو نه پاک بس او ویګن کښې سفر کوئ.

(31) د سفرنه بیرته راتلو کښې د کور والؤ دپاره څۀ تحفه د ځان سره راوړئ، ځکه چه فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي: کله چه څوک د سفرنه واپس راځي نو د کور والؤ د پاره دِ څه نه څه هَدِیّه (یعني تحفه) راوړی، اګر که پخپله ځولئ کښې کاڼړي راوړي. (ابن عساکر ج52 ص230)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووم). (اِبنِ بشكوال)

(32) د شرعی سفر نه په بيرته رارسيدو كه مكروه وخت نه وي نو د هر څه نه مخكښې په خپل جمات كښې او چه كله كور ته اورسيږ نو په كور كښې هم دوه ركعته نفل اوكړئ.

په زړګاؤ سنّتونه زده كولو د پاره د مكتبةالمَدينه دوه كتابونه (1) د 312 صفحو كتاب "**بهارِشريعت**"حصّه 16او (2) د 120 صفحو كتاب "**سُنّتيں اور آداب**" هديه كړئ او اولولئ. د سنّتو د تربيّت يوه غوره ذريعه د دعوتِ اسلامی په **مَدَني قافِلو** كښې د عاشِقانِ رسول سره د سنّتو نه ډك سفر هم دې.

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

دَ رحمتونو ګټلو د پاره قافلو كښې لا ړشئ
دَ سنّتونو زده كولو دَپاره قافلو كښې لا ړشئ
مشكلات به حل شي قافلو كښې لا ړشئ
مصيبتونه به ختم شی قافلو كښې لا ړشئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**دا رساله اولولئ او بل ته ئې وركړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره كښې د **مَكتبةُ المَدينه** نه شائع شوي رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم كړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهكونو ته په تحفه كښې وركولو د پاره په خپلو دُكانونو كښې هم د رِسالو اېښودلو عادت جوړ كړئ، د اخبار خرخونكو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاوَنډ كښې كور په كور وقفه په وقفه كله يوه كله بله د سنّتو نه ډكو رِسالو رسَولو په ذريعه د نيكئ دعوت عام كړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

طلب غم مدینہ بقیع و مغفرت وبے حساب جنّت الفردوس میں آقا کا پڑوس

یکم محرم الحرام ۱۴۳۴ھ
16-11-2012

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّیاللہُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نیزدې هغه وي چا چه په دُنیا کښې په ما باندې زیات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذِی)

# فهرست


| عنوان | نمبر |
|---|---|
| دَ درودشریف لیکونکي بخښنه اوشوه | 1 |
| د درود په ځائ ؐ لیکل حرام دي | 2 |
| دوه وارِه مجاهدین | 2 |
| دا ماشومان څوک وو؟ | 4 |
| زوَرِند متِ (لاس) | 5 |
| عجیبه جذبه | 7 |
| د اُبو جَهل سر | 8 |
| د ابو جَهل آخِري بکواس | 9 |
| د قُدرت ښکلي طریقي | 10 |
| د مسلمانانو سامانِ جنګ | 12 |
| د کفارو سامانِ جنګ | 12 |
| د حیرانوونکي جذبي راز | 15 |
| د فرښتو په ذریعه مدد | 16 |
| د جبرئیل عَلَیۡہِ السَّلَام اس | 17 |
| دُعا دَ مؤمن وَسله ده | 18 |
| چه څوک ژاړی د هغه کار سمیږی | 19 |
| د دوو دیرشو حروفو په نسبَت د سفر 32 مَدَني ګلونه | 22 |


# ماخذ ومراجع


| مطبوعه | کتاب | مطبوعه | کتاب |
|---|---|---|---|
| دارالکتب العلمیة بیروت | السیرة النبویة | مکتبة المدینه باب المدینه | قراٰنِ مجید |
| دارالکتب العلمیة بیروت | دلائل النبوة | داراحیاء التراث العربی بیروت | تفسیر کبیر |
| دارالکتب العلمیة بیروت | سبل الهدٰی | دار الفکر بیروت | تفسیردر منثور |
| دار القلم دمشق | محمد رسول اللّٰه | مکتبة المدینه باب المدینه | خزائن العرفان |
| مرکز اہلسنت برکات رضا ہند | مدارج النبوة | دارالکتب العلمیة بیروت | بخاری |
| موئسسةالریان بیروت | القول البد یع | دار ابن حزم بیروت | مسلم |
| مکتبة المدینه باب المدینه | بہارِشریعت | دارالکتب العلمیة بیروت | مسند ابی یعلی |
| مکتبة المدینه باب المدینه | وسائلِ بخشش | موئسسةالاعلمی للمطبوعات بیروت | کتاب المغازی |

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

## نيك او مونځ ګزاره جوړيدو دَ پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کيدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذرِيعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سَفَر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ



MC 1286

www.dawateislami.net


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net